**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۲** (از ۲۵ اسد الی اول سنبله ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

ACKU

---

## په دې گڼه کې:


- مقدمه ........ ۳

**استقلال دیروز و استقلال امروز!**

- از استقلال تا آزادی ........ ۴
- نقش استبداد ........ ۵
- استقلال و تجرید ........ ۵
- نقش قهرمان در تاریخ ........ ٦
- استقلال امروز ........ ٦




## افغانستان د امریکا او پاکستان د دسیسو په لومه کې!


- د امریکا او پاکستان ګډې ګټې او شته ستونزې ........................................ ۷
- په افغانستان کې د پاکستان او امریکا د ګټو اشتراک او تضاد .................................... ۹
- د افغانستان دریځ ..................................................................................... ۱۰








# مقدمه

په دې ګڼه کې، له انګریزي ښکېلاک څخه د هېواد د خپلواکۍ د ۹۵یمې کلیزې او د تاریخ په اوږدو کې د خپلواکۍ او ازادۍ د مفاهیمو له مخې، په افغانستان کې دا مهال د خپلواکۍ د کلیزې پر نمانځلو او اوسني وضعیت او همدارنګه د افغانستان او پاکستان تر منځ د وروستیو ستونزو او ګواښونو په تړاو د دغه هېواد لپاره د امریکا او پاکستان پر ګډو دسیسو او رواني سیاسي لوبې، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورږ شننې لولئ.

* ۹۵ کاله وړاندې افغانستان له انګریزي ښکېلاک څخه خپلواکي اعلان کړه، چې هر کال د یو لړ مراسمو پر مهال نمانځل کېږي. په ۲۰۰۱ زېږدي کال کې افغانستان ته د امریکایي او نړیوالو ځواکونو له راتګ وروسته، د بېلابېلو هڅو له لارې پر دې خبره د ملت د قانع کولو هلې ځلې کېږي، چې ګویا دا مفهوم چې پر یوه هېواد کوم بل بهرني هېواد تسلط ونه لري، د استقلال اصلي مفهوم نه دی او د سړې جګړې له دوران څخه راپاتې مفهوم دی؛ نو دا چې په اوسني وضعیت کې د هېواد د خپلواکۍ کلیزه نمانځل څه پیغام له ځان سره درلودای شي؟

* له بلې خوا په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې په پاکستان کې هم اړدوړ زیات شوی، د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې هم یوه نوې پړاو ته داخلې شوې دي او د افغانستان په اړه د پاکستان ځینې وروستي ګامونه د یوې پېچلې سیاسي لوبې ښکارندويي کوي. د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې امریکا، په افغانستان کې د دغه هېواد پوځي حضور ته په پام سره، تر ټولو اغېزناک رول لوبوي او او د افغانستان پر وړاندې د پاکستان او امریکا ګډو سیاسي لوبو، افغانستان ته په راتلونکي کې ګڼ ګواښونه متوجه کړي دي، چې د دې اوونۍ سیاسي تحلیل په همدغو موضوعاتو راڅرخي.

ACKU

# استقلال دیروز و استقلال امروز!



هر ملتی از خود افتخارات ملی دارد. این افتخارات مشترک از جمله عواملی است که گروه‌های مختلف قومی، نژادی، زبانی، مذهبی... را باهم پیوند داده و از آنان یک ملت می‌سازد.

استقلال یک کشور افتخار ملی بزرگ آن کشور است و حتی امریکا که امروز خود را تنها ابرقدرت جهان می‌داند، همه ساله سالروز استقلال خود از سلطهٔ بریتانیا را جشن می‌گیرد.

چرا باید افتخارات تاریخی را زنده نگهداشت؟ دلیل مهم آن اینست که افتخارات تاریخی اشاره به گذشتهٔ مشترک یک ملت است و افتخارات مشترک در تحکیم وحدت ملی میان مردم، نقشی نهایت مهم دارد. اینکه پدران ما ۹۵ سال قبل دست بدست هم دادند تا این کشور را از سلطهٔ بریتانیا برهانند، به معنای تعلق مشترکی بود که با این آب وخاک داشتند.

## از استقلال تا آزادی

واژه‌های استقلال و آزادی که گاهی با هم بصورت مترادف بکار می‌روند در تعریف دقیق‌تر از هم تفاوت دارند. بسیاری به این باور اند که استقلال به معنای آزاد بودن از سلطه و اسارت تحمیلی فرد یا گروه و یا ملتی دیگر است، زیر سلطه اجباری دیگری بودن و بر سرنوشت خویش حاکم نبودن نوعی بردگی و به معنی نبود استقلال است.

اما آزادی بیشتر بر چگونگی اعمال قدرت دولت بر ملت یعنی بر سیاست‌های داخلی ناظر است. به عبارهٔ دیگر، زمانی می‌توان از آزادی یک ملت سخن گفت که آزادی‌های مشروع و انسانی اش توسط قانون به رسمیت شناخته شده و در عمل پیاده گردد. کشوری که اسیر سرکوب‌گری واستبداد است، شاید از نظر قدرت دولتی مستقل از سلطهٔ دیگران باشد، اما آزاد نیست. بنابراین می‌توان گفت که آزادی و استقلال لازم و ملزوم هم اند ویکی بدون دیگری نمی‌تواند وجود داشته باشد.

اما در عمل رژیم‌های سرکوب‌گر از استقلال وسیله‌ای برای سرکوب مخالفین خویش ساخته‌اند و هرگاه افراد و گروه‌ها به مخالفت با استبداد و سرکوب‌گری داخلی برخیزند، متهم به رابطه با خارج و دشمنی با استقلال می‌شوند.

در مقابل باور به سرکوب‌گری امروز یک نظر دیگر هم وجود دارد که آزادی داخلی و رفاه مادی را مهمتر از استقلال سیاسی یا دولتی برای یک کشور می‌داند. در یک ملاقات دسته‌جمعی تعدادی از تحلیلگران سیاسی افغان در سفارت انگلیس در کابل، یکی از تحلیلگران خطاب به سفیر انگلیس از این مسئله ابراز تاسف کرد که **"**قیام پدران ما علیه استعمار انگلیس در حقیقت قیام علیه تمدن بود و اگر این کار نمی‌شد، امروز ماهم به اندازهٔ پاکستان به پیشرفت اقتصادی دست می‌یافتیم**!"**

## نقش استبداد

وقتی به تاریخ کشورهای جهان سوم و از جمله به تاریخ کشور خود نگاه می‌کنیم، تقریبا تمام تاریخ این سرزمین محشون از تسلط دیرپای استبداد داخلی است. سرکوب‌گران داخلی بارها برای تداوم سلطهٔ خود بر ملت، به استعمارگران خارجی توسل جسته و از آنان برای سرکوب ملت‌ها بهره برده‌اند.

در عین حال وقتی در کشوری، ملت تحت تسلط استبداد داخلی قرار دارد، حاکمان برای تداوم تسلط خویش مجبور به وابسته شدن به سلطهٔ خارجی می‌باشند. در چنین حالت هرچند یک ملت درظاهر آزاد است، اما سلطهٔ غیر مستقیم استعمار بر آنان همچنان مسلط باقی می‌ماند. این همان حالتی است که افغان‌ها بعد از به رسمیت شناختن استقلال شان از انگلیس، به آن مواجه شدند.

## استقلال و تجرید

در گذشته حاکمان مستبد و وابسته به استعمار تلاش داشته‌اند، تا پیشرفت‌های اجتماعی در جامعه را مهار نمایند تا در نتیجه ملت‌ها در تاریکی نگهدارند و آنگونه که خود می‌خواهند بر آنان حکومت کنند. این گونه رژیم‌های سرکوب‌گر سعی در تجرید کشور از جهان داشته و بهانهٔ آنان از این تجرید، حفظ استقلال کشور بوده است. بعنوان مثال سفر به کشورهای خارجی برای مردم کشورهای بلوک شرق در دوران جنگ سرد ویا سفر به کشورهای خارجی برای مردم افغانستان در دوران ظاهرشاه و داوودخان.

اما امروز به دلیل گسترش ارتباطات، هیچ کشوری نمی‌تواند در تجرید احساس مستقل بودن نماید. مثال آن دوران طالبان است که تجرید کشور موجب حفظ کشور از سلطهٔ بیگانگان نشد. حفظ استقلال ملی فقط با مشارکت ملت در امر حکومت ممکن است تا فرد فرد یک ملت خود را مالک سرزمین خود بدانند و حاضر باشند بخاطر کشور خویش قربانی بدهند.

ACKU

## نقش قهرمان در تاریخ

توماس کارلایل قهرمانان را سازندهٔ تاریخ می‌داند. هرچند در فلسفهٔ اجتماعی عامل واحد نمی‌تواند به میان آورندهٔ تغییر در تاریخ باشد؛ ولی از این نکته هم نباید غافل بود که بخش مهمی از تحولات تاریخ معلول اندیشه و عملکرد پیشروان، رهبران و نخبه‌گان هر قوم و ملت است و البته خود این نخبه‌ها هم ثمرهٔ تحول و پیشرفت خود جامعه می‌باشند.

در افغانستان هم وقتی سخن از تامین استقلال کشور در ۹۵ سال قبل سخن به میان می‌آید، از اعلیحضرت امان الله خان بعنوان پادشاه کشور که به همت وی در ۱۹۱۹ میلادی استقلال کشور ما حاصل شد، نام برده می‌شود.

## استقلال امروز

بعد از سال ۲۰۰۱ تعدادی از به اصطلاح روشنفکران تلاش دارند به ملت این باور را القا نمایند که استقلال به مفهوم عدم تسلط نیروی خارجی بر یک کشور از مفاهیم دوران جنگ سرد است. استقلال ملی دیگر مفهوم کلاسیک خود را از دست داده و اکنون که دنیا مبدل به یک دهکده گردیده است، هیچ کشوری نمی‌تواند بدون وابستگی به کشورهای بزرگ به ترقی و پیشرفت دست یابد.

این گونه تعبیر از استقلال بشدت عوام فریبانه است زیرا «وابستگی» و «سلطه» چیزی است و داشتن «رابطه» با جهان چیز دیگر. ملت‌های آزاد آنهایی اند که در رابطه با کشورهای دیگر منافع ملی خود را از دست ندهند. منافع ملی مجموعه‌ای از تمهیدات و وسایلی است که یک ملت را در برابر چالش‌ها و تهدیدات مختلف خارجی، محافظت می‌نماید.

مولانا اقبال در اشعار خود مسلمانان را به بازگشت به خویشتن یا «خودی» ترغیب می‌نماید و به این باور است که سلطهٔ اسارت‌بار دیگران موجب ضعف احساس خودی گردیده و سلطهٔ استعمار را قوام و دوام می‌بخشد.

در افغانستان امروز همه به این باور اند که دلیل مشکلات امروز ما از دست دادن اعتماد به خویشتن در میان ماست و به همین دلیل چشم به کمک دیگران داریم. حضور بیگانگان موجب دوام این احساس در میان ما و سد راه بازگشت ما به خویشتن است. پس تا زمانیکه ما از این حالت بیرون نیامده ایم، تجلیل از استقلال بیشتر یک عادت تکراری و تقویمی است و تازمانیکه خارجیان بر ما مسلط اند، تجلیل از روز استقلال در ذهن ما عظمت یک افتخار بزرگ ملی را تجسم نمی‌بخشد، بلکه به ما نوعی احساس سرافگندگی می‌بخشد که چگونه بعد از آن همه قربانی، قادر به حفظ استقلال خود نشدیم.

ACKU

# افغانستان د امریکا او پاکستان د دسیسو په لومه کې!



که له یوې خوا په شمالي وزیرستان کې د پاکستان د حکومت روانو عملیاتو هلته بشري ناورین رامنځته کړی؛ له بلې خوا داسې برېښي، چې پاکستان په دې وروستیو کې د دغو عملیاتو په څېر پلانونو د عملي کولو له لارې، تر بل هر وخت زيات د خپلو ستراتېژيکو اهدافو په لور د پرمختګ هلې ځلې کوي.

د دې ترڅنګ چې پاکستان د افغانستان پر ختیزو سیمو د توغندیزو بریدونو د زیاتولو او ځمکني او هوايي پوځي برید د ګواښونو له لارې د خپلو ستراتېژيکو ملګرو د اهدافو او خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره خپل فشارونه روان ساتي؛ دا مهال پاکستان او پاکستاني واکداران هم د ځینې ناسمو سیاستونو درنه بیه پرې کوي او د نويو سیاسي لارو چارو په لټه کې دي.

## د امریکا او پاکستان ګډې ګټې او شته ستونزې

امریکا دا مهال په سیمه کې، په تېره بیا افغانستان کې د خپل حضور له امله د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې اغېزناک لوری دی، چې د تحلیل پر مهال د درې واړو هېوادونو تر منځ دوه اړخیزې ګټې له پامه نه شي غورځول کېدای.

امریکا پاکستان ته خپلې اړتیاوې ویني، په لنډمهال کې د افغانستان د جګړې لپاره اکمالات، د ځمکې او هوا له لارې مخامخ پوځي همکاري او په اوږده مهال کې د سیمې لپاره د امریکا د پلانونو لپاره د پاکستان ملاتړ درلودل

او یا هم د پاکستان د وړتیاوو کارول دي، چې له مخې یې امریکا له پاکستان سره دوه اړخیزه لوبه روانه کړې ده؛ کله امتیازات ورکوي او کله یې هم د دسیسو ښکار دی.

اوسمهال د پاکستان او امریکا د اړیکو تمرکز تر ډېره د [په اصطلاح] ترهګرۍ ضد جبهه کې د پاکستان پر شتون او همکارۍ راڅرخي؛ خو په راتلونکي کې د چین او روسیې یا هم د شانګهای د احتمالي بلاک پر وړاندې په سیمه کې له امریکا سره د پاکستان همکاري هم، امریکا له پامه نه شي غورځولی.

مګر پاکستان بیا په اوسني وخت کې، چې له اقتصادي سیاسي او د بېلتون پالنې له ستونزو سره مخ دی، د امریکا میلیاردونه ډالره مرستې او په سیاسي برخه کې د دغه هېواد له ځینو سیاستونو ملاتړ د دغو اړیکو محور بولي. که څه هم پاکستان د امریکا دوه مخو سیاستونو اندېښمن کړی هم دی او پر هغوی بشپړ باور هم نه شي کولی، چې د دواړو هېوادونو ملګرۍ ته یې هم پوره زیان اړولی دی.

پاکستان په دې هم پوهېږي، چې پر خپل دغه پخواني ستراتېژیک ملګري اوس هم د پخوا په څېر باور نه شي کولی او ډېر کله یې چې له دغه هېواد سره ځینې توافقات درلودلي دي، د اړتیا په وخت کې بیا سرغړونه ترې شوې ده. ښه بېلګه یې هم د امریکا او پاکستان تر منځ د 1956 زېږدي کال لاسلیک شوې معاهده او امریکا ته د پېښور په "بډه بېره" سیمه کې ورکړل شوې اډه ده، چې له مخې یې امریکا باید د اړتیا پر مهال، له پاکستان سره مرسته کړې وای؛ مګر کله چې بنګله دېش له پاکستان څخه جلا کېده پاکستان د مرستې تمه درلوده، خو هغه سمندري بېړۍ چې د پاکستان مرستې ته ور روانه وه، هېڅکله هم پاکستان ته ونه رسېده.

په وروستیو کلونو کې هم کله چې امریکایي او ناټو ځواکونو پر افغانستان یرغل کاوه، له پاکستان سره ځینې تړونونه لاسلیک شول، چې تر نن ورځې پورې وخت ناوخت سرغړونه ترې شوې او دواړه هېوادونه د خپلو ګټو او لوبې ګټلو لپاره خپلې ژمنې تر پښو لاندې کوي. حتا داسې تحلیلونه هم شته دي، چې د پاکستان په اوسنیو روانو بحرانونو کې هم اصلي رول امریکا لوبولی دی.

خو له دې ټولو سره سره پاکستان د خپلو سیاستونو له کبله داسې مرحلې ته رسېدلی، چې د خپل ځان د ژغورلو لپاره د امریکا پر وړاندې درېدل هم په ګرانه بیه ورته تمامېدای شي او ناچاره باید د لوېدیزو کړیو ځینې سیاستونو او اهدافو ته سر ټیټ کړي.

په ټولیز ډول که څه هم د امریکا او پاکستان تر منځ د ګټو ډېر تضادونه شته دي، خو بیا هم امریکا له ګڼو عواملو سره سره، د خپلو سیمه ییزو پلانونو حتا منځني ختیځ لپاره د پاکستان پر رول سترګې نشي پټولی او د پاکستان ګټې هم له پامه نه شي غورځولی؛ چې د بېلګې په ډول، امریکا د چین پر وړاندې په خپله سړه مبارزه کې له پاکستان سره نژدې پاتې کېدل خورا مهم بولي.

## په افغانستان کې د پاکستان او امریکا د ګډو اشتراک او تضاد

په افغانستان کې د رواني جګړې لانور دوام، دلته د یوه قوي حکومت د رامنځته کېدو مخنیوی، په سیمه کې د لوېدیځ د راتلونکو سناریوګانو د عملي کولو لپاره د یوه ډګر په توګه د افغانستان کارول او داسې نور اهداف، د افغانستان په تړاو د پاکستان او امریکا د ګډو ګټو په توګه یادولی شو او امریکا تل د افغانستان په موضوع کې پاکستان ته تمایل کړی، که څه هم دا تمایل په 1989 کلونو کې د امریکا د سیاستونو په مفهوم او پاکستان او د سیمې نورو ځواکونو ته د افغانستان د دوسیې بشپړ سپارلو په معنا نه دی.

د دغو دواړو ستراتېژیکو ملګرو هېوادونو ډېری سیاستونه د یو او بل د ګټو ضد هم واقع شوي او د دواړو هېوادونو د ملګرۍ په لار کې یې ستونزې راټوکولې دي. د هند پر وړاندې د دغو دواړو هېوادونو مخالف لیدلوری او اړیکې، له چین سره د دواړو هېوادونو په اړیکو کې توپیر او همدا راز د ایران، روسیې او منځنۍ اسیا په تړاو د دوی د سیاستونو ترمنځ مخالفتونه او داسې نور ځینې موضوعات شته دي، چې د دوی په ګډو سیاستونو کې د خنډونو لامل شوي او له افغان حکومت څخه په بېلابېلو برخو کې د هند د نفوذ کمولو په څېر غوښتنې یې هم له امریکا سره پر همدغه مخالفت او تضاد راڅرخي.

د امریکا او پاکستان استخباراتو په تېرو کلونو کې یو بل ته د ضربې رسولو هڅې هم کړې دي؛ په 2013 کال کې کله چې پاکستاني حکومت له خپلو وسله والو مخالفینو سره د سولې جدي خبرې پیل کړې، چې اصلي موخه یې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو، د امریکا له مجبوریتونو ګټه پورته کول وو؛ امریکا د سولې په تړاو د پاکستاني حکومت له ګام پورته کولو سره هم مهاله د طالبانو مشر حکیم الله مسید د بې پیلوټه الوتکې په برید کې وواژه، چې په مقابل کې یې پاکستان هم غچ اخېستونکي ګامونه اوچت کړل.

په دې وروستیو کې هم په افغانستان کې، په تېره بیا له دویم پړاو ولسمشریزو ټاکنو وروسته، د امریکا ځینې پټو تحرکاتو او سیاستونو پاکستان اندېښمن کړی او له بلې خوا په پاکستان کې هم ګډوډۍ مخ پر زیاتېدو دي، چې له همدې کبله پاکستان هم خپل فشارونه یو ځل بیا زیات کړي دي. د افغانستان پر سرحدي سیمو د توغندیزو بریدونو زیاتولو، له افغانستان سره په سرحد کې د ملېشو فعالولو او پر افغانستان د بریدونو ګواښ هم، پر امریکا د غیرمستقیمو فشارونو او له امریکا سره له کړو توافقاتو څخه د سرغړونې په دود دا ګامونه اوچت شول. پاکستان اوس په داسې وضعیت کې دی، چې د مجبورۍ له مخې به له افغانستان سره د امریکا د پالیسۍ له مخې وړاندې ځي، که څه هم دوی پوهېږي چې د دغو ناسمو پالیسیو درنه بیه پرې کوې او له همدې امله د ځان ژغورنې هڅې هم کوي.

ACKU

پاکستان هم د امریکا په ملګرۍ کې ځینې ګټې لټوي او د امریکا له زور او ځواک څخه په ګټې سره د اوږدمهالو پلانونو د عملي کولو ترځنګ، له افغانستان سره د ډیورنډ د مسئلې، د پاکستاني طالبانو د ځپلو لپاره د امریکا مرستې او ملاتړ، د هند پر وړاندې د خپلې مبارزې ځواکمنتیا او داسې نورو ګټو ترلاسه کول په خپل مهالویش کې لري.

## د افغانستان دریځ

له دې حقیقت څخه انکار نشي کېدای، چې په سیمه کې رواني جګړې او سیاسي لوبې ګټونکي او بایلونکي لوري لري، چې ګټونکې يې معمولاً هغه لوري دي، چې یا خو د دغو لوبو ابتکار ورسره دی او یا يې هم د تطبیق لپاره په سیمه کې نفوذ درلودلی دی.

افغانستان شاوخوا 60 کاله وړاندې په ملګرو ملتونو کې د پاکستان رامنځته کېدو ته د منفي رايې له ورکړې راهیسې، داسې پرستیژ او پیاوړی دریځ نه دی درلودلی، چې له خپلو ګټو اغېزناکه دفاع وکړای شي.

افغانستان په نړیواله کچه هېڅ ډول فشار پر پاکستان نه شي واردولی، بلکې هرکله چې د داسې یوه فشار اړتیا لیدل شوې د مرستې لاس امریکا ته اوږد شوی، د کوم هېواد په اشاره چې اړوند ګوانښونه افغانستان ته متوجه وو. د پاکستان د سفیر د احضارولو په څېر د افغان دولت وروستۍ هڅې هم عوام فریبانه دي او کومه پایله يې نه ده درلودلې.

د افغان دولت له لوري پر پاکستان حتا د تبلیغاتي فشارونو واردولو توان هم نه لیدل کېږي او ترڅنګ يې د اقتصادي فشارونو واردولو مخه هم د امریکا په مرسته ډب شوې او افغان دولت تل له دې ناحیې هم ګام اوچتولو ته نه زړه ښه کړی او نه يې دا توانمني درلودلې ده.

په ځانګړي ډول په تېره لسیزه کې، چې په سیمه کې د رواني لوبې په دوام کې د بهرنیو ځواکونو د پوځي حضور شاهدان وو، د افغانستان بهرنۍ سیاست خورا زیات کمزوری و. افغان حکومت فعاله ډیپلوماسي او اغېزناکه بهرنۍ پالیسي نه درلوده چې حتا په تېرو کلونو کې يې د لوېدیز د ښکاره دسیسو پر وړاندې هم کوم د پام وړ ګام نه شو اوچتولی.

که څه هم یو ځل بیا افغانستان د نړۍ د زبرځواکونو د مخامخ ښکېلتیا شاهد دی؛ خو د افغانستان په سیاسي دستګاه کې د لوېدیځ نفوذ د دې لامل شو، چې د افغانستان په ګټه د اړتیا وړ ملاتړ راجلب نه شي،

بلکې د راتلونکو ننګونو او جدي ګواښونو لامل شي، چې ښه بېلګه یې هم افغانستان ته د پاکستان له لوري راتلونکي مستقیم او غیرمستقیم متوجه ګواښونه دي.

د دې ترڅنګ په سیمه ییزه کچه هم خبرو اترو او څو اړخیزو غونډو او کنفرانسونو څکه پایله نه درلوده، چې د سیمه ییزو او نړیوالو دسیسو پر وړاندې د افغانستان بیداري او د مقاومت ځواک خورا کمزوری و او اصلي ابتکار د بهرنیو کړیو په لاس کې و. پای

ACKU

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)